دافغانستان اسلامی جمهوریت
د تــــاکنو خپلواک کمیسیون

جمهوری اسلامی افغــانستان
کمیسیون مستقل انتخـــابات

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission

# د رايې ورکووني کړنلار

دغه کړنلارد افغانستان د ټاکنو دقانون د۵۶ مادې پر بنسټ د ورکړل شويو واکونو په پام کې نيولو سره د ټاکنو خپلواک کميسيون له خوا په رايې ورکوونې پورې د اړوندوچارو د تنظيم په موخه تصويب شوې ده.

## اصطلاحګانې

**لومړۍ ماده:**

په دې کړنلار کې دغه اصطلاحګانې لاندې مفاهيم افاده کوي.

1. کميسيون : د ټاکنو خپلواک کميسيون چې د افغانستان د اساسي قانون د ۱۵۶ مادې پر بنسټ جوړ شو ی دی.
2. د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون : د غه کميسيون د ټاکنو د قانون د ۵۲ مادې پر بنسټ جوړ شوې دی.
3. ټاکنې : په ټاکنو کې د رايې ورکوونکو او کانديدانو نوم ليکنې ، ټاکنيزې مبارز ، رايې ورکووني ، د رايو شميرنو او د ټاکنو د پايلو اعلام په کې شامليږي.
4. سياسي ګوند: د عدليې په وزارت کې راجستر شوی سياسي ګوند.
5. د ټاکنو نيټه د رای ورکوونې ورځ ده د ټآکنو د قانون له ۳۳ مادې سره سم د ټاکنو د خپلواک کميسيون له خوا اعلانيږي .
6. د رايې ورکووني دسيمې ژورنال : د رايې ورکوونې په هره سيمه کې د شکايتونو او عمده پيښو په اړه د معلوماتو دليکلو لپاره دی.
7. د رايـې ورکـوونې مرکزونـه : د ښځو او نرانولپاره د رايـې ورکـوونې لـه مخکـې ځخـه د ټاکل شـويو سيموترکيب دی
8. درايی ورکووني سيمه :د رايی ورکوونې د مرکز په چوکاټ کې د رايی ورکوونی له مخکی څخه ټاکل شوی سيمه.

## د تطبيق ساحه

**دويمه ماده :**

د غه کړندود په لاندينيو ټاکنو کې رايې ورکوونې پورې اړوندې چارې تنظيموي .

1) د جمهوري رياست ټاکنې
2) دولسي جرګې ټاکنې
3) د ولايتې شوراګانو ټاکنې
4) د ولسواليو د شوراګانو ټاکنې

## د رايې ورکووني حق

**دريمه ماده:**

1) په شراطو برابر هر تبعه چې د رايي ورکوونکي په توګه ثبت او د رايې ورکووني کارت يې ترلاسه کړی وي کولې شي د رايې ورکوونې په ورځ د د کميسيون له خوا په مخکې ټاکل شويو سيمو کې حاضر او د رايې ورکوونې د کارت له مخې او د کميسيون له کړنلارو سره سم رايه ورکړي .
2) کميسيون د د رايو رسرې والي دساتلو لپاره لازم شراط په پام کې نيسي.

## د رايې ورکووني مرکزونه او سيمې

**څلورمه ماده:**

1. رایې ورکوونه په هغو مرکزونو او سیمو کې چې د هیواد په ګوټ ګوټ کې د کمیسیون له لوري پرانستل کیږي ، تر سره کیږ ي
2. کمیسیون په شرایطو برابرو هغو رای ورکوونکو ته چې د بیلابیلو لاملونو له امله رایې ورکوونې ثابتو سیمو ته د لاسرسی امکانات نه لري ، د امکان تر پولې پورې د راې ورکوونې لازمې آسانتیا برابروي.
3. کمیسیون په هغو ځایونوکې د رایې ورکولو مرکزونه پرانیزي چې سپینږیري ، معلولین او امید وارې ښځې ورته لاسرسی ولري .
4. کمیسیون د ښځینه رایی ورکوونکو لپاره د رایی ورکوونې جلا سیمې جوړوي .
5. د رایی ورکوونې په هرمرکز کې د سیمو شمېر د کمیسیون له خوا ټاکل کیږي .

**<u>د رایې ورکوونې ورځ او موده</u>**
**پنځمه ماده :**

1. کمیسیون د رایې ورکوونې ورځ او د رایې ورکوونې د پیل او پای موده مشخصه او ټول پرې خبروي .
2. په یوه ورځ کې له یوې څخه د زیاتې ټاکنې د ترسره کیدو په صورت کې ، کمیسیون د رایی ورکوونکو لپاره له یوې ټاکنې څخه د زیاتې ریاې ورکوونې لپاره لازم شرایط برابروي.
3. مخکې له دې چې د رایې ورکوونې پای اعلان شي د رایې ورکوونکو وروستۍ لیکه د نوم لیکنې د سیمې د رییس له خوا په نښه کیږي او د رایی ورکوونکوپه لیکه کې دې حاضرو اشخاصو ته د رایې ورکوونې اجازه ورکړل شي .د رایې ورکوونې د پای ته رسیدو له اعلان وروسته هیڅ شخص نه شي کولې د رایې ورکوونې لپاره د رایې ورکوونکو له لیکو سره یو ځای شي .
4. کمیسیون کولې شي د حالاتو او احوالو په پام کې نیولوسره پریکړه وکړي چې د رایی ورکوونې په مرکزونو کې د ر ایې ورکوونې ساعات تمدید کړي .

**<u>د رایې ورکوونې کارکوونکی</u>**
**شپږمه ماده :**

1) د رایې ورکوونې په سیمه کې د رایې ورکوونې بهیر د سیمې د رییس او ساحوي ناظم تر مستقیمې څارنې لاندې د ټاکنیزو کارکوونکو له خوا اداره کیږي .
2) د رایې ورکوونې دسیمې رییس د رایی ورکوونې په سیمه کې د غوره ادارې په موخه لاندینې تدبیرونه ونیسي.

الف- د کتوونکو، د سیاسي ګوندونو د استازوکاندیدانو او رسنیو له خوا د اساسي قانون ، د ټاکنو د قانون، کړندودونو او دکمیسیون له خوا د نور تصویب شویو سندونو د ترپښو لاندې کولو په صورت کې د ې د سیمې رییس لارښوونه وکړي چې دغه اشخاص د رایې ورکوونې له سیمې څخه ووځي .

ب- د سیمی رییس باېد د ګڼه ګوڼې او امنیتي ستونزو له پام کې نیولو سره د رایې ورکوونې په سیمو کې د کتوونکو بنسټونو، استازو ، سیاسي ګوندونو ، کاندیدانو او رسنیو د لاسرسی دمساوي حق د برابرولو په موخه مهالویش یا مناسبه لاره وټاکي .

- ساحوي ناظم د رایی ورکوونې د سیمو او مرکزونو د غوره ادارې لپاره کولې شي لاندې تدبیرونه ونیسي.

الف- که چېرې د رایې ورکولو سیمې او مرکزونه له کړکیچ، تاوتریخوالي،توپان، سېلاواویا له نور ناڅاپي پیښو سره مخامخ شي او له امله یې د راې ورکولو بهیر نا ممکن شي ، د رایې ورکولو د ځنډیدو امر دې صادر کړي .

ب- د اټکل شویو حالاتو له پای ته رسیدو ورسته ددغه کړندود د پنځمې مادې د دریمې فقرى په لومړي بند کې ساحوي ناظم کولې شي د ولایتي دفتر د آمر له خبرولو ورسته د رایو ورکولو موده د هغې مودې تر اندازې پورې چې د رایو ورکولو بهیر دریدلې دی په هماغه ورځ بیا نوې کړي .

ج- ساحوي ناظم مکلف دی چې ددغه کړندود د پنځمې مادې د دریمې فقرى د لومړي بند په اړه خپلې پریکړې ډیر ژر د ولایتي دفتر د آمر له لارې کمیسیون ته وړاندې کړي.

**<u>د رایې ورکوونې د سیمې ژورنال</u>**
**اوومه ماده :**

۱ –د رایی ورکوونې هره سیمه د رایی ورکوونې یو ژورنال لري . په دې ژورنال کې په سیمه کې دشتو شکایتونو اود هغه په اړه نیول شویو تدبیرونه اود رایې ورکوونې دسیمې عمده معلومات لري چې په منظم ډول د نوم لیکنې دسیمې درییس له خوا په ژورنال کې لیکل کیږي .

## هغه اشخاص چې د رايي ورکولو په مرکزونو اوسيمو کې د حضور اجازه لري

**اتمه ماده:**

1. د لاندينيو اشخاصو پرته هيڅ فرد نه شي کولي چې د رايي ورکولو په سيمو اومرکزونو کې حضور ولري :

الف- د ټاکنو موظف کارکوونکي ،د کميسيون غړي ، د کميسيون د دارالانشا واکمن کارکوونکي.
ب- د ټاکنيزو شکايتونو د دکميسيون له خوا ورپيژندل شوي غړي .
ج- په شرايطو برابر هغه شمېر افراد چې د رايي ورکولو کارت له ځان سره ولري.
د- دسياسي ګوندونو استازي، کانديدان او هغه کتوونکي بنستونه چې د کميسيون له خوا يې باور ليک ترلاسه کړی وي .
ه- په هغو رسنيو پورې اړوند خبريالان چې د کميسيون له خوا يې اعتبار ليک ترلاسه کړی دی.
و- د کميسيون له خواځانګړي معرفي شوي ميلمانه.
ز- د دغې کړندود له نهمې مادې سره سم اشخاص له معلولو رايو ورکوونکو سره د همکارۍ اجازه نه لري.

٢ هغه افراد چې د رايي ورکووني په سيمو اومرکزونو کې حضورلري بايد د رايود سرې والې درناوې وکړي.

## د رايي وکوونکو په شرايطوبرابروالي

**نهمه ماده :**

1. د ټاکنو کارکوونکي بايد رايي ورکوونکو ته د د رايي ورکووني د پاڼو له سپارلو مخکې د ددوې په شرايطو له برابر والي څخه ډاډ ترلاسه کړي .د رايي ورکووني په بهيرکې د ګډون لپاره د رايي ورکووني د کارت شتون الزامي دی.
2. هغه معلوماتي حدود چې د رايي ورکوونکي په اړه د ټاکنو په ورځ د ټاکنو د کميسيون د کارکوونکو له خوا د رايي ورکووني په سيمو کې کولي شي ثبت شي ، د کميسيون له خوا ټا کل کېږي.

## اعتراضونه

**لسمه ماده :**

1. کانديدان او ناظرينو کولای شي چې په يوه مرکز کې د يوه شخص د رأی ورکولو د حق او يا دده د رأی ورکونې په اړه اعتراض وکړي او د يادونې وړ ده چې پدې اړه نومړي اعتراضات بايد په صندوق کې د رأيپانې د اچولو پورې د رأی ورکونې د محل د ريس سره مطرح شي؛ د رأی ورکونې د محل ريس بايد پدې اړه خپله پريکړه وکړي او هم خپله پريکړه د ټولو دلايلو سره يو ځای د رأی ورکونې د محل په ژورنال کې ثبت کړي.
2. د مرکز دريس له تصميم څخه د اعتراض کوونکي د نه رضايت به صورت کې اعتراض کوونکی يا هغه لوری چې پرخلاف يې اعتراض شوی دی ،کولي شي د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون ته اعتراض يا شکايت وکړي .
3. په اعتراضونو او شکايتونو پورې داړوند حا لاتوپه اړه په کړندود کې تنظيمېږي .

## رايه ورکوونه

**يوولسمه ماده :**

1. رايي ورکوونکی بايد د راې ورکووني پاڼه په سرې ډول په نښنه کړي.
2. د رايي ورکووني دسيمي کارکوونکي مخکې له دې چې يو راې ورکوونکی د رايي ورکووني غورفې ته ننوځي بايد دراې ورکووني دبهير په اړه راې ورکوونکي ته لازم معلومات وړاندې کړي ، خو يو ټاکنيز کارکوونکی بايد په هيڅ صورت د رايي
3. درأ يي ورکووني په اړه د رايي ورکوونکي په تصميم نيونه کې مستقيمه يا غير مستقيمه لاسوهنه ونه کړي.

که چيری يو رايي ورکوونکي معلول وي د رايي ورکووني د پاڼې د نښنه کولو په صورت کې کولي شي له يو واکمن او اعتباروړشخص او د اړتيا په وخت کې د رايي ورکووني دسيمې له رييس څخه له لاندې شراطوسره سم د همکارۍ غوښتنه وکړي .– هغه شخص چې له يوه معلول سره د رايي ورکووني د پاڼې د نښنه کولو په اړه همکاري کوي بايد د رايي ورکووني پاڼه د راې ورکوونکي په وړاندې اويا دهغه له غوښتنې سره سم په نښنه کړي .

ب – د رايي ورکووني د سيمي له رييس پرته هيڅ شخص نه شي کولي د راي ورکووني په اړه له يو ځخه له زيات معلول سره مرسته او همکاري وکړي .
ج- هره همکاري چې له يو راي ورکوونکي سره د ددې مادې له شراطوسره سم ترسره کيږي بايد د راي ورکووني دسيمې په ژورنال کې درج شي .
د- هغه شخص چې له يو معلول رايي ورکوونکي سره همکاري کوي . بايد دمعلول شخص رايي سري والي ته درناوي وکړي .
۴ .د هر رأيي ورکوونکي ګوته بايد راي ورکووني له پاني له ترلاسه کولو مخکې په ځانګړي رنګ سره په نښه شي .هغو افرادو ته چې ګوته يې په ځانګړي رنګ سره په نښه شوي وي د راي ورکووني سيمې ته د ننوتلو اجازه نه ورکول کيږي . خو داچې له کوم معلول رايي ورکوونکي سره د همکارۍ لپاره ننوتي وي .
۵.-که چيرې د يوې ورځې په بهيرکې له يوې ټاکنې ځخه زيات ترسره شي ، هر رايي ورکوونکی ددې حق لري چې اټکل شويو ټاکنو شمېرته رايه ورکړي .
۶. رايي ورکووني دپانو د ويش کارکوونکی کولی شي د رايي ورکووني د پاني د ويجاړيدو په صورت کي داسي چي د رايي ورکووني دپاني د نه اعتبارسبب شي د راي ورکووني نوې پاڼه د رايي ورکوونکي په واک کې ورکوي . په دې صورت کې د رايي ورکووني باطل شوې پاڼه بايد وساتل شي او د رايي ورکووني په ژورنال کې موضوع وليکل شي.

<u>**له رايي ورکووني وروسته پړاو**</u>

**دولسمه ماده:**

1) له دې ورسته چې ورستي راي ورکوونکي خپله رايه صندوق ته اچوي، بايد درايو صندوقونه مهر اود رايي ورکولومواد راټول او په خوندي ځاي کې دې يې وساتي او د رايي ورکووني دپاڼو صورت حساب برابر کړي .
2) د رايي ورکووني د صندوقونو مهر او د پاڼو صورت حساب برابريدل د کورنيو او نړيوالو کتونکو ، د سياسي ګوندونو د استازو،راجستر شويو کانديدانو او د باورليک لرونکو رسنيو د خبريالانو له خوا ليدل او ځارل کيږي .

# انفاذ

**ديارلسمه ماده:**

دغه کړنلار د تصويب له نيټې ځخه نافذه او خپريږي.